د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

لغمان پوهنتون

د محصلانو چارو معاونیت

محصلانو د خدمتونو او همغږۍ عمومي مدیریت

# د محصلینو د اخلاقي چلند، انصاف او عدالت پالیسي

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريک له، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله**

### ۱ .مقدمه او ارزښت :

د پوهنتونونو اساسي هدف یوازې د علم او پوهې لېږدول نه دي، بلکې د مسؤلیت پذیره، بااخلاقه، او پر عدالت ولاړ شخصیتونو روزل دي .د اخلاقي مقرراتو شتون او د انصاف او عدالت د اصولو پالل د تضمین کیفیت  د پروسې له اساسي او غوښتونکو معیارونو څخه ګڼل کېږي.

دغه پالیسي د پوهنتون د کړنلارو په لوړولو، د شفاف تحصیلي چاپېریال په رامنځته کولو، او د اکاډمیکې باوري فضا د ساتلو په موخه د ټولو محصلینو، ښوونکو او اداري پرسونل لپاره د یو رسمي حقوقي او اخلاقي چوکاټ په توګه ترتیب شوې ده.

### ۲ .د پالیسی اهداف :

د دې پالیسی مهمې موخې په لاندې ډول تدوین شوي دي:

•د اکاډمیک نظم ټینګښت :په ټولګیو، سمینارونو، لابراتوارونو او د پوهنتون په ساحه کې د مثبت او احترام امیز نظم تضمین کول.

•د انصاف او مساوي فرصتونو اساس رامنځته کول :داډ ترلاسه کول چې ټول محصلین بې له کوم قومي، ژبني، یا سمتي تعصب څخه له برابر تحصیلي امکاناتو ګټه اخلي.

•د علمي اخلاقو رامنځته کول :د تحصیلي درغلیو، علمي غلا ،او غیر اخلاقي مسایلو پر وړاندې د روښانه جزا او مخنیوي اصولو ټاکل.

•د شکایتونو د رسیده ګۍ میکانیزم :محصلینو ته یوه معتبره او بېطرفه لاره چمتو کول ترڅو له ناانصافۍ او ناخوالو څخه رسماً شکایت ثبت کړي.

### ۳ .د پالیسی د تطبیق ساحه :

دا پالیسي پر لاندې بېلابېلو برخو او حالاتو تطبیقېږي:

•ټول ثبت شوي محصلین :د لیسانس برحال محصلین.

•مکاني ساحه :د پوهنتون ټوله فزیکي ساحه (ټولګي، کتابتونونه، لیلیې، تفریحي ځایونه، غونډې، ورزشي ډګرونه).

•مجازي او ډیجیټل فضا :د پوهنتون رسمي انلاین سیستمونه، محصلینو واټساپ ګروپونه، د تدریس انلاین پلیټفارمونه، او د ټولنیزو رسنیو رسمي پاڼې.

•خارجي بېلګې او پروګرامونه :د پوهنتون په استازیتوب بهرني علمی سفرونه، ورکشاپونه او د محصلینو علمي بورسونه.

### ۴ .اساسي تعریفونه او مفاهیم :

•اخلاقي چلند :هغه معقول او مسؤلانه سلوک چې د انساني کرامت، بېطرفۍ، او د نورو محصلینو او استادانو حقوقو ته احترام پکې وي.

•انصاف او عدالت :له تحصیلي معیارونو او لایحو سره سم د ټولو محصلینو سره بې طرفه، عادلانه او یو شان چلند کول.

•اکاډمیکه سرغړونه :هر ډول درغلي، له کاپي ګټه اخیستل، د نورو اثار په خپل نوم کول (علمي سرقت)،او په ازموینه کې ناقانونه تصرف.

•غیر اکاډمیکه سرغړونه :فزیکي یا لفظي تاوتریخوالی، د عامه شتمنیو تخریب، اخلاقي ناخوالې، او د پوهنتون د نظم خنډ کېدل.

### ۵ .د محصلینو اساسي حقوق :

پوهنتون د لاندې حقوقو تامینول خپل اخلاقي او قانوني مسؤلیت ګڼي:

•بېطرفه ارزونه :محصل حق لري چې تحصیلي پروژې، کورنۍ دندې او ازموینې یې د شفافه او مشخصو معیارونو له مخې په عادلانه توګه ارزیابي شي.

•د ناانصافۍ او ځورونې پر وړاندې محافظت :محصل حق لري چې له تحقیر، لفظي تاوتریخوالي او تعصب څخه په امن او مسؤلانه چاپېریال کې تحصیل وکړي.

•د آزادي او حمایت :د محصلینو شخصي معلومات، د ازموینو درجې، او درملنې یا انضباطي سوابق محرم دي.

•له حق څخه دفاع او وړاندیز :د هر ډول شکایت یا انضباطي تور په حالت کې محصل د پوره سپیناوي او بېطرفه استیناف غوښتنې حق لري.

**۶. د محصلینو د اخلاقي چلند مکلفیتونه :**

ټول محصلین ژمن دي چې لاندې اخلاقي معیارونه مراعات کړي:

•احترام او ادبیات :له استاذانو، اداري پرسونل، خدمتګارانو او همصنفیانو سره په منل شویو ادبیاتو او احتراماتو خبرې کول.

•د عامه اسانتیاوو ساتنه :د پوهنتون د کمپیوټر لیبونو، کتابتون، ودانیو او وسایلو مسؤلانه ساتل او له ویجاړولو ډډه کول.

•د لید او پوښاک منظموالی :د نبوي سنتو لارښوونې سره سم افغاني جامې اغوستل،خولۍ په سر کول او خپل سیرت او صورت د نبوي طریقې مطابق جوړول.

•له منفي فعالیتونو منع والی :د سیګرټ څکولو، بې ځایه غوغا جوړولو، او بې اجازې ډلبازیو او سیاسي غونډو مخنیوی.

**۷. اکاډمیک اخلاق او علمي روڼتیا :**

علمي صداقت د ټول تحصیلي نظام زړه تشکیلوي .د لاندې مواردو ترسره کول له جدي اکاډمیک جرمونو څخه شمېرل کېږي:

•ادبي سرقت :د بل چا تحریري لیکنه، مقاله، تحلیل یا نظر له مرجع ښودلو پرته په خپل نوم وړاندې کول.

•په ازموینه کې درغلي :له یادښتونو، انټرنیټي وسایلو،موبایل یا یو بل ته د پارچو تبادلې له لارې د انضباط نقض کول.

•جعل او تحریف :د تحصیلي اسنادو، ۳ کلنو یا ۴ کلنونمراتو جدول، د استادانو د امضاوو یا رسمي کاغذ تزویر.

**۸. د شکایتونو او رسیدګۍ شفاف بهیر:**

که چیرې یو محصل له ناانصافۍ، تعصب یا غیر معقول چلند سره مخ شي، د رسیدګۍ بهیر په ۴ واضحو پړاوونو کې پرمخ ځي:

| د ترسره کېدو بڼه او کړنلاره | ارتباطي مرجع | پړاو |
|---|---|---|
| د مسألې مخامخ او د دوستانه حل موندلو شفاهي بحث په ۳ درسي ورځو کې. | مربوطه استاد / د ډیپارټمنټ آمر | ۱. غیر رسمي حل |
| د رسمي غوښتنلیک/عریضې بڼه کې د دقیقو شواهدو تسلیمول او د څېړنې پیل. | د پوهنځي رئیس | ۲. رسمي شکایت |
| د دواړو خواوو استماع، د اسنادو بررسي او د دقیق راپور چمتو کول په ۵ کاري ورځوکې. | د پوهنځي د نظم او دسپلین کمېټه | ۳. تحقیق او بررسي |
| د نهایي پرېکړې رسمي تحریري خبرتیا محصل او اړونده څانګو ته چمتو کول. | پوهنځي علمي شورا ریاست | ۴. ابلاغ او پرېکړه |

**9. د استېناف او بیا کتنې بهیر:**

که چیرې کوم محصل احساس کړي چې د نظم او ډسپلین کمېټې فیصله عادلانه نه ده یا نوي قانع کونکي ثبوتونه شتون لري، لاندې شرایط نافذ دي:

•د وړاندیز کولو وخت :محصل حق لري د فیصلې د ابلاغ له نیټې څخه د ۷ کاري ورځو په جریان کې خپل استېناف غوښتنلیک د پوهنتون ریاست ته وسپاري.

•د بیا کتنې هیئت :د پوهنتون رئیس بېطرفه لوړرتبه هیئت موظف کوي ترڅو د پرېکړې بیاکتنه وکړي.

•نهایي پرېکړه :د استېناف کمېټې تصمیم حتمي او قطعي ګڼل کېږي.

۱۱ .د تضمین کیفیت ، بیا کتنه او پلې کول:

د دې پالیسۍ د موثریت او لایحوي ثبات لپاره د تضمین کیفیت آمریت موظف دی چې:

•ارزونه کال کې یو ځل له محصلینو او استادانو د نظریاتو سروې واخلي.

•د پالیسۍ تعدیل :د تحصیلي قوانینو د تغیر او مسلکي اړتیاوو پراساس د پالیسۍ تعدیلات علمي شورا ته وړاندې کړي.

ماده: نافذیدل

دا تکلاره د لغمان پوهنتون د علمي شورا په (۶) ګڼه پریکړه او ۸ / ۴ /۱۴۴۸ هـ-ش نیټه کې ثبت او تائید ده.

**ترتیب کوونکي: عبادالله " احساس"**

**محصلانو د خدمتونو او همغږۍ عمومی مدیر**

**تائید کوونکي: مولوي حافظ عبدالصبور حقاني**

**محصلانو مرستیال**